بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

چهار شنبه ۱۲ غويی ۱۴۰۳ هـ ش | ۲۲ شوال المکرم ۱۴٤٥ هـ ق | ۱ می ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۶۴)

## د سترې محکمې لوړ رتبه قضائي پلاوي د هېواد اتو (۸) ولايتونو ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب حفظه الله په ځانګړي هدايت د قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب په مشرۍ يوه لوړ رتبه پلاوي چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) او د بشري سرچينو عمومي رئيس محترم مولوي سيف الله آغا يې غړيتوب درلود؛ د محاکمو د قضائي او اداري چارو د بهبود او ولايتي محاکمو د اړتياوو معلومولو په موخه د هېواد اتو (۸) ولايتونو (فارياب، سرپل، جوزجان، مزارشريف، سمنګان، بغلان، تخار او کندوز) ته سفر وکړ.

ياد پلاوي هر ولايت ته د سفر پر مهال د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو له ټولو مسؤولينو او قضائي غړو سره وکتل او له هغوی يې غوښتنه وکړه چې په اړوند ولايت کې د محاکمو د قضائي او ادارو چارو پر وړاندې شته ستونزې او حللارې ورسره شريکې کړي.

دغه راز د سترې محکمې ياد قضائي پلاوي د مسلکي او وړکسانو د ظرفيت معلومولو په موخه د ولايتي محاکمو د قضائي غړو ارزونه وکړه.

په دې سربېره د سترې محکمې پلاوي د هېوادوالو او مراجعينو د غوښتنې مطابق په محاکمو کې د فيصلو د ځنډ لاملونه معلوم کړل او د اړوند محاکمو مسؤولينو ته يې په ټاکلي وخت دوسيو ته د رسېدنې په برخه کې لازم هدايات وکړل.

د سترې محکمې پلاوي د محاکمو قضائي غړو ته هدايت وکړ چې دوسيو ته د ژر رسېدنې په موخه دې له يو بل سره د اړتيا په صورت کې لازمه همکاري کوي، حاضرۍ ته دې پابندي وکړي، په ټاکلي وخت دې دندو ته راځي او په رسمي وخت کې دې له بې ضرورته ملاقاتونو او نورو هغو کارونو څخه ډډه وکړي چې د مراجعينو د کارونو د ځنډ لامل کېږي.

د سترې محکمې دغه لوړ رتبه پلاوي د يادو محاکمو مسؤولينو او منسوبينو ته هدايت وکړ چې خپل مسؤوليت په پوره ايمانداری او صداقت ترسره کړي، مسؤوليت ته دې د مسؤوليت په سترګه وګوري، په دې سره به هم الله تعالی درڅخه راضي وي او هم به د خلق الله کارونه په ټاکلي وخت ترسره کېږي.

دغه راز د محاکمو مسؤولينو ته سپارښتنه وشوه چې له مراجعينو سره ښه اخلاق وکړئ، له مشر سره د پلار په ډول، له همزولو سره د ورور په ډول او له کشرانو سره د اولاد په ډول له شفقت ډکه رويه وکړئ.

په دې سربېره د هرې محکمې د ټولو وارد شوو په ځانګړې توګه په هرو دوو اونيو کې د صادره او وارده دوسيې وکتل شوې چې په دې موده کې محاکمو ته څومره دوسيې واردې شوې او څومره دوسيې فيصله شوې دي؟ د محاکمو له مسؤولينو او قضائي غړو څخه غوښتنه وشوه ترڅو د ټولو هغه مواردو چې د دوسيو د ځنډ سبب شوي علاوه د يادو مواردو حللارې په ليکلي بڼه ترتيب او د سترې محکمې پلاوي ته وسپاري.

د سترې محکمې قضائي پلاوي د يادو محاکمو له مسؤولينو سره ژمنه وکړه چې د دوسيو د ژر حل او فصل او مراجعينو ته د اسانتياوو رامنځته کولو برخه کې به د محاکمو د غوښتنو په اساس هر ډول همکاري وکړي.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې د قضائي پلاوي دغه ۱۰ ورځنی سفر د روان هجري قمري کال د شوال المکرم مياشتې په ۶مه نېټه پيل او د همدې مياشتې په ۱۵ مه نېټه پای ته ورسېد.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش او د تدقيق او مطالعاتو عمومي رئيسان معرفي شول

د چهارشنبې په ورځ د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د شوال المکرم مياشتې په ۱۵ مه نېټه د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو نوی عمومي رئيس محترم شيخ ګل آغا عاقب صاحب او د قضائي تفتيش نوی عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن فراهي صاحب معرفي او رسماً يې خپلې دندې پيل کړې.

د يادو عمومي رئيسانو د معرفت غونډه چې د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک حقاني صاحب، د سترې محکمې مسؤولينو او د يادو رياستونو کارکوونکو په کې ګډون درلود؛ د قرانکريم د مبارکونو آياتونو په تلاوت پيل شوه.

ورپسې د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک حقاني صاحب د نوو رئيسانو د معرفت ترڅنګ دوی ته سپارښتنه وکړه چې خپل مسؤوليتونه د اسلامي شريعت مطابق ترسره کړي؛ ځکه دغه چاره به د عدالت د تأمين سربېره د دوی د دنيا او اخرت د نېکمرغۍ لامل شي .

دغه راز شيخ عبدالمالک حقاني صاحب زياته کړه چې مسؤوليتونه امانت دي او دا الهي امر دی چې هر مسؤول به خپله دنده په پوره صداقت او ايمانداری ترسره کوي.

نوموړي مسؤولينو ته په خطاب کې وويل، هر کار د الله تعالی د رضا په موخه ترسره کوئ؛ کله چې قلم اخلی الله تعالی په ياد راولئ.

دغه راز محترم شيخ عبدالمالک حقاني صاحب د مخکنيو رئيسانو د چارو ستاينه وکړه او تازه مقرر شوييو عمومي رئيسانو ته يې په خپلو چارو کې د برياليتوب دعا وکړه.

دغه راز نويو ټاکل شوو رئيس صاحبانو په خپلو چاروکې د بشپړ اخلاص، صداقت او امانتدارۍ ژمنه وکړه او له ماتحت کارکوونکو يې غوښتنه وکړه چې په پوره همکارۍ او همغږۍ خپل مسؤوليتونه ترسره کړي.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې د قضائي تفتيش نوي عمومي رئيس له دې مخکې د جنوب غرب زون د تميز عالي مقام د جزا ديوان د رئيس او د تدقيق او مطالعاتو نوي عمومي رئيس د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رئيس په صفت دندې ترسره کولې او اوس تازه د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات حفظه الله په وړانديز او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله په حکم په يادو دندو وګمارل شول.




**په نبوي دوره کې دځينو قاضيانو يادونه:**

**دويمه برخه**

په مکه مکرمه کې زېږېدلی دی او پالنه يې ټوله د نبي کريم (صلی‌الله عليه وسلم) په کور کې شوې ده او اسلام يې په ماشومتوب کې راوړی دی، چې په ماشومانو کې لومړی ماشوم و، چې په اسلام مشرف کېږي، همدارنګه يو ډېر مېړنی، لوی عالم، ښکلی خطيب هم و، چې په ذکاوت او قضاء کې يې شهرت موندلی و، د حضرت علي (کرم الله وجهه) فضائل او ځانګړتياوې ډېرې زياتې دي، په دنيا کې يو د لسو جنتي صحابه کرامو او خلفاء راشدينو له جملې څخه څلورم تن دی، همدارنګه په قرآنکريم، ميرات او شرعي احکامو او لغت باندې ډېر پوه و، چې بالآخره په ډېر غدر او فريب سره د هجرت په څلوېښتم کال چې له ۶۶۱ ميلادي کال سره سمون خوري د روژې مبارکې مياشتې په ۱۷ مه نېټه شهيد کړل شو.

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يمن ته ولېږی، ترڅو د يمن ولس ته شريعت وروښايي او د دوی ترمنځ پرېکړې وکړي.

وکيع په خپل سند سره د علي بن ابي طالب (رضي الله عنه) روايت نقل کړی دی، چې علي (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) زه يمن ته لېږم، نو ما وويل: اې د الله رسوله! ته ما لېږې، په داسې حال کې زما عمر دی او د قضاء په اړه ماته علم نشته؟

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وويل: «انطلق فان الله سيهدي قلبک، ويثبت لسانک» يعنې ته ولاړه شه، بې شکه چې الله تعالی به ستا زړه په حقه لاره برابر کړي او ستا ژبه او وينا به محکمه کړي. حضرت علي (رضي الله عنه) وايي چې بيا ماته د دوو خلکو ترمنځ پرېکړه کې هېڅکله شک او شبه نه ده را پيدا شوې.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۱ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## لوګر ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

په ۱۴ /۱۰ /۱۴۴۵ هـ ق نېټه د لوګر ولایت د محمداغي ولسوالی د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس یو تن ته چې په زنا متهم و، په عام محضر (۳۰) دُرې تعزیري سزا ورکړل شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د امارتي ادارو پر مسؤولینو سربېره د یادې ولسوالۍ ګڼ شمېر سپین ږیرو او ځوانانو ګډون درلود.

یادې غونډې ته د لوګر ولایت د محمدآغي ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې قاضي اصلاحي وینا وکړه وویل، د حدودو او تعزیراتو په تطبیق سره امن، خیر او د ټولنې اصلاح راځي، په ټولنه کې عفت او مصؤنیت حاکم ګرځي او د فساد مخه نیول کېږي.

د ابتدائیه محکمې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شوه.

## بالای دو متهم در ولایت کاپیسا حکم جزای تعزیری تطبیق شد

به تاریخ ۱۳/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت کاپیسا بالای دو تن که متهم بر سرقت بودند، در محضر عام حکم جزای تعزیری (۳۰-۳۰ دُره) تطبیق شد.

در گردهمائی که به همین منظور دایر گردیده بود، محترم شیخ اسدالله (سنان) معاون مقام ولایت کاپیسا، محترم مولوی ذبیح الله (خالد) رئیس محکمهٔ مرافعه، نمایندگان ریاست استخبارات و قوماندانی امنیه، کارمندان ارگانهای دولتی، مراجعین و مردم عام حضور داشتند.

در ابتداء نشست محترم مولوی ذبیح الله خالد رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا در سخنرانی خویش گفت که الحمد لله امروز آرمان شهدا و جهاد بیست سالهٔ مجاهدین امارت اسلامی که تنفیذ شریعت اسلامی بود تحت پرچم سفید (لااله الا الله محمد رسول الله) با چشم سر مشاهده میکنیم.

در ادامه معاون مقام ولایت کاپیسا در بیانات خویش فرمود، طبق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) قضاء یک ارگان مستقل در نظام اسلامی بوده و مقام محترم ولایت کاپیسا نیز برای همه اطمینان میدهد، که در امور قضاء مداخله ننموده و استقلالیت آنرا حفظ مینماید.

در اخیر این نشست محترم مفتی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمهٔ شهری نص قرار تائیدی مقام ریاست عمومی دیوان جزا تمیز مرکزی ستره محکمه را قرائت و ابلاغ نمود، در بیان خویش گفت که برای همهٔ مردم ولایت کاپیسا اطمینان میدهیم که در اجرای احکام شریعت اسلامی از هیچ کسی ترس و هراسی نداریم و آنچه که شریعت اسلام برای مجرمین جزا تعین نموده بوده باشد، بدون هراس حتماً آنرا تطبیق خواهیم نمود، قبل از فتح مجاهد سنگر بوده‌ایم و امروز مجاهد تطبیق احکام الهی می باشیم.

این نشست با دعاء خیر، فلاح و سپاسگذاری از تمام اشتراک کنندگان توسط مفتی عبدالروف سعادت رئیس محکمهٔ شهری ولایت کاپیسا به پایان رسید.

قابل ذکر است محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری از جمله متهمین یک متهم را به مدت سه سال حبس تنفیذی و ۳۰دُره جزای تعزیری و متهم دیگر را به یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود.

## په خوست ولایت کې پنځو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

په ۱۴۴۵/۱۰/۱۵هـ ق نېټه د خوست ولایت د اسمعیل خېلو د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس پنځو کسانو ته چې په قطاع الطریقی، غلا او اخلاقي فساد متهم وو، په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د یادو متهمینو له جملې څخه یو متهم پر پنځه کاله تنفیذي بند او (۳۹)دُرې تعزیري سزا، دویم متهم پر درې کاله تنفیذي بند او (۳۹) دُرې تعزیري سزا، دریم او څلورم متهمین پر ۸ میاشتې تنفیذي بند او (۳۰) دُرې تعزیري سزا، پنځم متهم پر څلور کاله تنفیذي بند او (۳۹) دُرې تعزیري سزا محکوم شوی و.

د تعزیري سزا دغه حکم د خوست ولایت د اسمعیل خېلو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په انګړ کې په داسې حال کې پر متهمینو تطبیق شو چې د خوست د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مولوي امین الله (منیب)، د یاد ولایت د امربالمعروف رئیس، د اسمعیل خېلو ولسوالۍ ولسوال او امنیه قوماندان او د یادې ولسوالۍ ټول ملکي او نظامي منسوبینو حضور درلود.

یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینوتطبیق شوه.

## د ارزګان د مرافعه محکمې قضائي او اداري غونډه وشوه

د شنبې په ورځ ( ۱۴۴۵/۱۰/۱۱ هـ ق) د اروزګان ولایت د مرافعه محکمې د عمومي رئیس الحاج شیخ سخیداد (ابوالتقی) په مشری قضائي او اداري ناسته وشوه.

په دې ناسته کې د مرافعه محکمې د دیوانونو قضائي غړو، د نظامي محکمې قضائي غړو، د ښاري ابتدائیه محکمې قضائي غړو، د اسنادو او وثایقو د ثبت مسؤولینو، د حقوقو آمر، د ټولو محاکمو اداري کارکوونکو او د امنیتي قطعې مسؤولینو ګډون درلود.

ناسته د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ وروسته د مرافعه محکمې عمومي رئیس ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه، قضائي منسوبینو ته یې جدي سپارښتنې وکړې چې د خلکو ستونزې او مشکلات د اسلامي اصولو او د اسلامي امارت د محاکمو اصولو ته په کتو سره حل او فصل کړي، هېڅ فشار دې په ځان نه مني، د هېڅ فرد تر تاثیر لاندې دې نه راځي او حق دې حقدار ته وسپاري؛ ځکه چې محکمه د عدالت ځای دی باید عدالت په کې تطبیق شي.

دغه راز الحاج شیخ سخیداد (ابوالتقی) ټولو قضائي او اداري کارکوونکو ته جدي سپارښتنه وکړه چې حاضرۍ ته پابندي وکړي، زیاته یې کړه، په ټاکلي وخت دندو ته راځئ او پر ټاکلي وخت ځئ.

د مرافعه محکمې رئیس وویل، کوم قاضي چې په محبس کې بندیان لري، باید په میاشت کې د خپلو مربوطه بندیانو سره وګوري؛ که کومه ستونزه ولري باید هغه د اصولو مطابق ورحل کړي.

د مرافعه محکمې رئیس د امنیتي قطعې مسؤولینو ته امر وکړ چې له ټولو مراجعینو سره باید د اصولو مطابق یو ډول چلند وکړي.

د ناستې په پای کې د مدني دېوان مفتي الحاج شیخ عبدالباری صاحب د حاکم نظام د بقاء او د مسؤولیتونو د ښه ترسره کېدو لپاره دعاوکړه او جلسه پای ته ورسېده.

## د زابل د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د مقتول کورنۍ قاتل ته بخښنه وکړه

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند سیمه کې په ۱۱ /۹ /۱۴۴۵ هـ ق نېټه یوه ترافیکي پېښه رامنځته شوې وه چې په پایله کې یې یو تن په شهادت رسېدلی و، د یادې پېښې موضوع په ۲۵/ رمضان المبارک د شهرصفا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته راجع شوه.

یاده پېښه د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د قاضي مولوي عزیزالله (اخندزاده) په ډېرو هڅو، د علماء کرامو او قومي مشرانو په منځګړیتوب حل شوه؛ د مقتول کورنۍ لخوا قاتل ته بخښنه وشوه.

د یادونې وړ ده چې دغه (۱۵)مه د قتل موضوع ده، چې د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د رئیس او قضائيي غړو په هڅو حل او فصل کېږي.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۲۷۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۰۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۹/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۲۷۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۰۵) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۸۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۸۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۷۵) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۰۵) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۶۱) دوسیه، به تعداد (۵۶۳) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۶/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، تجارتی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۶۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۰) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۵۶۳) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دريو اونيو کې د (۵۹۷) دوسيو پر حل او فصل سربېره (۳۴۱) وثيقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولايت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائيه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په دريو اونيو کې له (۲۰/ ۹/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۹/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۵۹۷) دوسيو پر حل او فصل سربېره، (۳۴۱) وثيقې هم اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو ته په دريو اونيو کې (۳۹۰) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۹۷) دوسيې فيصله شوې، (۷۷) دوسيې مکتوبې مستردې شوې، د (۲۷۵) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو ته په دريو اونيو کې (۱۳۶) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۸۰) دوسيې فيصله شوې، (۸) دوسيې مکتوبې مستردې شوې، د (۶۰) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو په دريو اونيو کې (۳۴۱) بېلا بېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونيو کې (۶۲۸) دوسيې حل او فصل کړې دي

د کابل ښار د ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونيو کې له (۱۶/ ۹/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې) په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۶۲۸) دوسيې حل او فصل کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کابل د ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۳۰۴) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۳۰۶) دوسيې فيصله شوې، د (۳۴) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۸) دوسيې مکتوبې مستردې شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل د ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۲۲۹) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۴۵) دوسيې فيصله شوې، د (۱۳۱) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷) دوسيې مکتوبې مستردې شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائيه محاکمو څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۲۲۹) تجارتي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۲۶) دوسيې فيصله شوې، د (۳۶) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵) دوسيې مکتوبې مستردې شوي او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## محاکم پنجشیر طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۳۶) دوسیه، به تعداد (۳۵۱) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پنجشیر، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ (۱/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۶) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصلهٔ شده، (۱) مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۱) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت پنجشیر به تعداد (۳۵۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بامیان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۶۳) دوسیه، به تعداد (۴۶) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۴۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بادغیس طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۳۷۰) دوسیه، به تعداد (۱۲۹) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۵۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۷۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۵۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۱۲۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم کاپیسا طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۵۲) دوسیه، به تعداد (۳۴) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۲۵/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۹/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۱) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، (۲۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۳۴) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم سرپل طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۶۸) دوسیه، به تعداد (۱۷۹) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سرپل، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ اختصاصی، محکمهٔ نظامی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سرپل به تعداد (۱۷۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لاإله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## دکابل د مرافعه محکمې دیوانونو په دوو اونیوکې (۹۱) دوسیې حل او فصل کړې دي

د کابل ولایت د مرافعه محکمې دیوانونو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) نیټې پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۹۱) دوسیې حل او فصل کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - د دې محکمې د جزا دیوان:**

د جزا دیوان ته په دوو اونیو کې (۳۱) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳) دوسیې فیصله شوې، د (۳۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. د دې محکمې د عامه امنیت دیوان:**

د عامه امنیت دیوان ته په دوو اونیو کې (۸) دوسیې وارد شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۵) دوسیې فیصله شوې، د (۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. د دې محکمې د نظامي منسوبینو دیوان:**

د نظامي منسوبینو دیوان ته په دوو اونیو کې (۲) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۴. د دې محکمې مدني دیوان:**

مدني دیوان ته په دوو اونیو کې (۱۷) دوسیې وارد شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیه فیصله شوې، د (۱۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیې مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۵. د دې محکمې تجارتي دیوان:**

تجارتي دیوان ته په دوو اونیو کې (۳۴) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## محاکم غزنی طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۹۲) دوسیه، به تعداد (۱۹۴) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.


**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۱۹۴) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.







میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳